
# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه
# مقام او مرتبه (پښتو)

(بیان)



د تولو پیر

د الله پاک تُحفه

د علوي ادب څنګه وه نکړم

د نسبت برکت


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مقام او مرتبه [1]

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مقام او مرتبه " ولولي یا واوري، هغهٔ د قیامت پهٔ ورځ د غوث الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ غلامانو کښې راپاڅوې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي، رَسُول هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** " تاسو خپل مجلسونه پهٔ ما باندې پهٔ دُرُودِ پاک وئیلو سره ښائسته کړئ ځکه چې ستاسو پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل به د قیامت پهٔ ورځ ستاسو د پاره نُور وي۔" (جامع صغیر، ص 280، حدیث:4580)

### صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... د امیرِاہلِ سنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د ربیع الآخر کال **1444** هجری مطابق **2022** پهٔ عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچي) کښې د یولسم شریف د مَدَني مذاکرو نه مخکښې د یو بیان لیکلې ګلدسته (د ځینې ضروري ترمیمونو سره)۔

## د حضرت خِضر عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات

منقول دي چې د اِمام جَمَالُ الـملّه وَالدِّين ابو محمد بن عَبد بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه وشوه چې آيا حضرت خِضر عَلَيْهِ السَّلَام ژوندے دے که وفات شوے دے؟ ارشاد يـې وفرمائيلو: زۀ د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام سره ميلاؤ شوے يم او ما د هغوئي پۀ خدمت کښې يوه پوښتنه عرض کړه چې ما ته د حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ باره کښې وه وايئ نو حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: هغۀ نن پۀ ټولو خوښو کښې بے مثاله او د ټولو اولياؤ قطب دے- الله پاک يو وَلي ته هم د شيخ عبدُ القادر پۀ شان اعلیٰ مقام نه دے ورکړے، نۀ يـې چا ولي ته د خپل محبت داسې جام ورکړے دے لکه ځنګه چې يـې شيخ عبدُ القادر ته ورکړے دے، نه يـې يو مقرب ته داسې فضيلت ورکړے دے کوم چې د شيخ عبدُ القادر نه زيات وي- الله پاک پۀ هغوئي کښې خپل هُغه راز کيښودلو پۀ کوم باندې چې هغۀ د ټولو اولياؤ نه اوچت شو، الله پاک چې څومره خلقو ته ولايت ورکړو او څومره خلقو ته به تر قيامته پورې ورکوي ټول د شيخ عبدُ القادر پۀ حضور کښې اَدب کوي-

(بهجة الاسرار، ص 325 ، 326)

ہے قولِ خضر یہ کہ سب اَولیا میں　　نہیں تیرا کوئی بدل غوثِ اعظم
ہے دِل کو تری جُستجو غوثِ اعظم　　زباں پر تری گفتگو غوثِ اعظم

(قبالۂ بخشش، ص 170، 173)

د حضور غوثِ اعظم شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو ربښتوني غلام، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره بے حده عقیدت او محبت لرلو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خپله فتاویٰ رضویه کښې پۀ ډیرو ځایونو کښې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذکرِ خیر فرمائیلے دے، د دې سره سره یې د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شان کښې ډیر شعرونه هم لیکلي دي او د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شاعري بالکل د قرآن او د حدیث او د بزرګانو د اقوالو مطابق ده، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ "حدائقِ بخشش" کښې لیکي:

جو وَلی قبل تھے یا بعد ہوئے یا ہوں گے　　سب اَدب رکھتے ہیں دِل میں مرے آقا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص 23)

## صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دوه درجے یې زیاتې شوې

نور ولولۀ چې څومره لوئے لوئے اولیائے کرام زما د مُرشد، شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اَدب کوي او د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د محبت

اظهار فرمائي، د سيدي و مرشدي غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه حضرت شيخ علي بن هيتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي زۀ د بغداد د سرکار حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د حضرت شيخ مَعروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار ته لاړم، حضرت شيخ معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ ډيرو لويو اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم کښې دے- حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته داسې سلام وکړو: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا شَيْخُ مَعْرُوْفٌ! عَبَرْنَاكَ بِدَرَجَتَيْن يعنې ”اے شيخ معروفه! پۀ تاسو باندې دې سلامتي وي، مونږه ستاسو نه دوه درجے اوچت شوي يو-“ هغوئي د مزار مبارک نه جواب ورکړو: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا سَيِّدَ اَهْلِ زَمَانِهٖ يعنې ”او پۀ تاسو باندې دې سلام وي، اے د خپلې زمانې والؤ سرداره!“ (قلائد الجواہر، ص 39)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جسے خلق کہتی ہے پیارا خدا کا　　اُسی کا ہے تُو لاڈلا غوثِ اعظم
مشائخ جہاں آئیں بہرِ گدائی　　وہ ہے تیری دولت سرا غوثِ اعظم

(ذوق نعت، ص 181، 182)

د فتاویٰ رضویه پهٔ جلد 26 ص 559 باندې دي: پهٔ دې کښې شک نشته چې د حضور غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرتبه ډېره اعلیٰ او افضل ده- غوث پهٔ خپل دور کښې د ټولې دُنیا د اولیاؤ سردار وي او زمونږه غوثِ پاک، د امام حسن عسکري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه پس د امام مهدي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د تشریف راوړلو پورې د ټولې دُنیا غوث او د ټولو غوثانو غوث او د ټولو اولیاءَ الله سردار دے او د هغوئي ټولو پهٔ څټ باندې د دوئي قدم مبارک دے- (نزہۃ الخاطر الفاتر، ص 6)- (فتاویٰ رضویہ، 559/26 مع التسهیل)

کھلا میرے دِل کی کَلی غوثِ اعظم مِٹا قلب کی بے کَلی غوثِ اعظم
مِرے چاند میں صدقے آجا اِدھر بھی چمک اُٹھے دِل کی گَلی غوثِ اعظم
ترا مرتبہ اعلیٰ کیوں ہو نہ مولیٰ تو ہے ابنِ مولیٰ علی غوثِ اعظم
تو باغِ علی کا ہے وہ پھول جس سے دماغِ جہاں بَس گیا غوثِ اعظم
فدا تم پہ ہو جائے نوریؔ مضطر یہ ہے اِس کی خواہش دِلی غوثِ اعظم

(سامان بخشش، ص 116 تا 121 )

## د ټولو پیر

زما پیر او مرشد، شهنشاهِ بغداد حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد وفرمائیلو: د انسانانو د پاره پیران دي، د "پیریانو د قوم" د پاره پیران دي

او زۀ د ټولو پير يم، غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل رحلت شريف پۀ وخت خپلو شهزادګانو ته وفرمائيل: پۀ ما کښې او پۀ تاسو کښې او د زمانې پۀ ټولو مخلوقاتو کښې دومره فرق دے خومره چې پۀ اسمان او زمکه کښې دے- زما نسبت د چا سره مۀ ورکوئ او ما پۀ چا باندې مۀ قياس کوئ- (بَهجَة الاَسرَار، ص 22،23 )

## د نعمت ډير ډير بيانول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! داسې اقوال پۀ کومو کښې چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خپلو شونډو مبارکو باندې خپل تعريف کړے وي دې ته تحديثِ نعمت (يعني د نعمت ډير ډير بيانول) وئيلے شي- لکه څنګه چې د قرآنِ کريم پۀ 30 سيپارۀ د سورة الضحىٰ پۀ آيت نمبر: 11 کښې د رَبُّ الْعٰلمين ارشاد دے: ﴿ وَاَمَّابِنِعْمَةِرَبِّكَفَحَدِّثْ ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د خپل رَبَ نعمت ډير ډير بيانوه-

اللّٰه پاک زما مُرشد غوثِ پاک حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته ډيرې خوبيانې، صلاحيتونه او شان او عظمت عطا کړے دے نو هغوئي د اللّٰه پاک نعمتونه ډير ډير بيان کړي دي او داسې ارشادات يې فرمائيلي دي او پۀ دې کښې يې خلقو ته خبردارے هم ورکړے دے چې

زما پهٔ باره کښې خُله بنده ساتئ، که پهٔ ما باندې مو تنقید وکړو یا مو زما مخالفت وکړو نو د یو ځائے به هم نشئ۔

بازِ اَشْہَب کی غلامی سے یہ آنکھیں پھرنی     دیکھ اُڑ جائے گا ایمان کا طوطا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص 26)

یعنې که د غوثِ پاک حضرت شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ باره کښې مو څهٔ نامناسبه خبره وکړه یا مو مخ واړولو نو د ایمان نه به خلاص شئ لکه څنګه چې حدیثِ قُدسي دے الله پاک فرمائي: څوک چې زما د یو ولي سره دښمني کوي زهٔ د هغهٔ سره د جنګ اعلان کووم۔

(بخاری، 4/ 248، حدیث:6502)

پهٔ دې روایت کښې هم پهٔ ښه طریقه پوهه کړے شوي یو چې خبردار! د الله پاک د ولي سپکاوے [یعنې توهین] مهٔ کوئ۔

## د الله پاک تحفه

شیخ ابو الحسن علي بن سنجاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُنیا پهٔ سردارانو کښې یو دے او غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک پهٔ تحفو کښې د مخلوق د پاره (یوه تحفه) ده۔ (بَهجَة الاَسرَار، ص 432)

## د بغداد مسافر ته پیغام

یوه ورځ حضرت سید امام احمد کبیر رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو خوریونو او مریدانو ته وصیت فرمائیلو چې یو کَس بغداد شریف د تللو په اراده د هغوئي خوا له د رخصتیدو د پاره راغلو، حضرت کبیر رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته وفرمائیل: چې کله بغداد ته اورسې نو که شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دُنیا کښې تشریف فرما وي نو د هغوئي د زیارت او که د دُنیا نه یې تشریف وړے وي نو د هغوئي د مزار مبارک د زیارت کولو نه مخکښې بَل څهٔ کار مهٔ کوه۔ حضرت احمد بن ابي بکر حریمي او حضرت ابو عمرو عثمان صریفیني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهما وفرمائیل: ” په خدائے مې دې قَسم وي! الله پاک په اولیاؤ کښې د شیخ محيّ الدِّین عبد القادر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان نهٔ څوک پیدا کړل او نه به یې پیدا کړي۔“

(بَهجَة الاَسرَار، ص 56 )

بقسم کہتے ہیں شاہانِ صریفین و حریم      کہ ہُوا ہے نہ ولی ہو کوئی ہمتا تیرا

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مقام او مرتبه

حضرت شیخ ابو عمرو عثمان بن مرزوق قرشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږه شیخ، امام او سید (یعني سردار)

دے او د ډېرو لويو سردار دے څوک چې په دې زمانه کښې د الله پاک په لار باندې روان وي الله پاک ته په ودريدو کښې سيدنا شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږه امام دے، د دې زمانې د اولياؤ او د ډېرو لويو درجو والؤ نه د دې خبرې په سختۍ سره وعده اخستے شوې ده چې " د حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خبرې طرف ته رجوع وکړي او د هغوئي د مقام اَدب وکړي-" (بَهجَة الاَسرَار، ص 332)

نہ کیونکر سلطنت دونوں جہاں کی اُن کو حاصل ہو

سَروں پر اپنے لیتے ہیں جو تَلوا غوث اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص 96)

## داسې څوک نه کوې چې بحر (يعني سمندر) پرېږدي او نهر پسې لاړ شي

شيخ ابو القاسم عمر بن مسعود بَزّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " زما سردار شيخ محي الدِّين عبد القادر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د شيخ عدي بن مُسافر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر تعريف کولو، زما د هغوئي د زيارت سره شوق پيدا شو او ما د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د هغوئي د زيارت کولو اجازت وغوښتو کوم چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عطا کړلو- ما چې سفر وکړو او هغوئي ته اورسيدم نو هغوئي د خپلې حُجرې د دروازے سره ولاړ وو- هغوئي چې زۀ وليدم نو ارشاد يې وفرمائيلو: اے عمره! هر کلے، تا سمندر

پريښودو او د نهر طرف ته راغلې- اے عمره! د شيخ عبد القادر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ لاسونو کښې د دې زمانې د ټولو اولیائے کرامو واګې دي-

(بَهجَة الاَسرَار، ص 289)

میں جہنّم میں نہ اَب جاؤں گا ان شاءاللہ　　رَہنُما تم کو جو میں نے ہے بنایا یاغوث
شاہِ بغداد! ہو عطّار پہ نظرِ رَحمت　　خالی کاسہ لئے ہے دُور سے آیا یاغوث

(وسائل بخشش، ص 541)

## د هغوئي ښنګه ادب اونه کړم

شيخ موسیٰ بن ماهين الزّولي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شيخ عبد القادر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږه پۀ زمانه کښې د خلقو نه بهتر دے او زمونږ پۀ وخت کښې سلطان الاولياء (يعنې د وَليانو سردار) او سيد العارفين (د الله پاک پيژندګلو لرونکو سردارد ے) زۀ د داسې ګس اَدب ولې اونه کړم د چا اَدب چې فرښتے هم پۀ اسمان کښې کوي- (بَهجَة الاَسرَار، ص 435)

د سلسلهٔ سُهروردیه باني شيخ شهاب الدِّين ابو حفص عمر سُهروردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زۀ د خپل ترۀ شيخ ابو نجيب عبد القاهِر سهروردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خدمت کښې حاضر شوم- زما ترۀ د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ادب وکړو او

خاموش ناست وو- چې کله راواپس شو نو ما د هغوئي نه هُغه وخت د شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ادب کولو په باره کښې پوښتنه وکړه نو زما ترهٔ وفرمائيل: زهٔ د هغوئي اَدب ځنګه اونه کړم حالانکې د هغوئي ذات کامِل او اکمل دے- په ټوله دُنيا کښې د هغوئي تصرّف (يعنې اختيار) دے- (بَهجَة الاَسرَار، ص 438)

## وړومبے زيارت کافي نه وو

حضرت خِضر مَوصِلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زهٔ په بارګاهِ غوثيت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کښې حاضر ووم- زما په زړهٔ کښې خيال راغلے چې زهٔ د شيخ احمد کبير رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت وکړم، د پيرانو پير، روشن ضمير شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: آيا شيخ احمد ليدل غواړې؟ ما عرض وکړو: آؤ جي! حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لږ سعت سر مبارک ښکته کړو بيا يې وفرمائيل: اے خِضره! واخله دا دے شيخ احمد- بيا چې ما وکتل نو زهٔ د حضرت شيخ احمد کبير رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوا کښې ناست ووم او ما هغوئي وليدل چې رُعب داره ګس وو، زهٔ ودريدم او هغوئي ته مې سلام وکړو- په دې باندې حضرت رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته وفرمائيل: اے خضره! هُغه څوک چې شيخ عبد القادر وه ويني کوم چې د ټولو اولياؤ سردار دے هغهٔ زما د ليدلو ارمان (ولې کوي؟) زهٔ خو د دوئي په

رَعِيَّت (يعني ماتحتو) كښې يم، دا يې چې وفرمائيل نو زما د نظر نه غائب شو بيا زۀ د حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د رحلت شريف نه پس بغدادِ معلیٰ ته د حضرت احمد رفاعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه زيارت له لاړم- هغوئي مې چې وليدل نو هم هُغه كَس وو څوک چې ما پۀ هُغه ورځ د حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ خوا كښې ليدلے وو- حضرت احمد رفاعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وفرمائيل: اے خضره! آيا وړومبے (زيارت) ستا د پاره كافي نه وو- (فتاویٰ رضويه، 388/28)

غَرَض آقا سے کروں عَرض کہ تیری ہے پناہ　　بندہ مجبور ہے خاطرِ پہ ہے قبضہ تیرا
دُھوپ محشر کی وہ جاں سوز قِیامت ہے مگر　　مطمئن ہوں کہ مرے سر پہ ہے پلا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص 30، 31)

## د عقيدت شعرونه

شيخ بهاؤ الدِّين زكريا ملتاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د خپل عقيدت اظهار څۀ داسې فرمائي:

سگِ درگاہِ جیلانی بہاؤالدین ملتانی　　لِقائے دینِ سلطانی محی الدین جیلانی

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د خپل عقيدت اظهار څۀ داسې كوي:

یہ چشتی نقشبندی سہروردی  ہر اک تیری طرف مائل ہے یا غوث

مزرع چشت و بخارا و عراق و اَجمیر  کون سی کشت پہ برسا نہیں جھالا تیرا

کس گلستاں کو نہیں فصل بہاری سے نیاز  کون سے سلسلہ میں فیض نہ آیا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص 25، 26، 259)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه، شير بيشهٔ سُنَّت حضرت مولانا حشمت علي خان عُبيدؔ رضوي د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د خپل محبت اظهار څهٔ داسې کوي:

سگ ہوں میں عُبَید رضوی غوث و رضا کا  بھاگتے ہیں میرے آگے شیرِ بَبر بھی

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!  صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## واه څومره ښکلے شان دے زما د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

حضرت مِرزا مظهر جانِ جانان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما پهٔ خوب کښې يوه غټه چبوتره وليدله پهٔ کومه کښې چې ډير اولياء الله حلقه جوړه کړې وه او پهٔ مراقبه کښې (يعني هر څهٔ يې پريښودي وو او د الله پاک پهٔ خيال کښې ډوب) وو، د هغوئي پهٔ مينځ کښې د سلسله نقشبنديه پيشوا حضرت خواجه محمد بهاؤ الدين نقشبند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د التحيات پهٔ شکل کښې او حضرت جنيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېره وهلې وه او تشريف فرما دے، ناڅاپه دا

بزرګان ودريدل او روان شول ما د (چا) نه پوښتنه وکړه چې دا څۀ معامله ده نو وه وئيلے شول چې دا ټول د مسلمانانو د څلورم خليفه، حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ د هر کلي د پاره ځي، بيا حضرت علي رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ تشريف راوړلو نو يو بزرګ پۀ ډير احترام سره د حضرت علي رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ لاس پۀ خپلو مبارکو لاسونو کښې نيولے وو، پۀ پوښتنه کولو معلومه شوه چې دا خَيرُ التابعين حضرت اُويسِ قرني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے، بيا يوه حجره مبارکه کومه چې ډيره صفا او نوراني وه ظاهره شوه او دا ټول بزرګان هغې ته داخل شول، ما چې د دې د وجهې پوښتنه وکړه نو جواب ميلاؤ شو: " نن د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عُرس شريف دے او دې بزرګانو پۀ دې کښې د شرکت کولو د پاره تشريف راوړے دے-" (کلمات الطيبات فارسی، ص 78 )

ہم کو "گیارہ" کا ہے عدد پیارا ان کی تاریخِ عُرس ہے گیارہ
یوں عدد ہم کو پیارا گیارہ ہے واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

(وسائل بخشش، ص 579)

## د قادريانو دې مبارک شي

د بغداد د سرکار حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مئينانو او مُريدانو دې مبارک شي چې د بغداد د سرکار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مبارک مطابق " د

هغوئي مُريد که هر خومره ګنهګار وي هغهٔ به تر هغه وخته پورې نه مرِ کيږي تر څو چې توبه اونه کړي-" (بَهجَة الاَسرَار، ص 191)

ایمان اُس کا بچ گیا شیطان سے، جو تیرے ہے "سلسلے" میں آگیا بغداد والے مرشد

(وسائل بخشش، ص 546)

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **عاشقانو!** څوک چې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه غلام جوړ شي د هغهٔ خو مزې شي- پهٔ بَهجَة الاَسرَار کښې دي: د پيرانو د پير، پير دستګير، روشن ضمير، قُطبِ رَبّاني، محبوبِ سُبحاني، پيرِ لاثاني، قنديلِ نُوراني، شهبازِ لامکاني الشيخ ابو محمد سَيِّد عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: ما ته يو غټ رجسټر راکړے شو پهٔ کوم کښې چې زما د ملګرو او تر قيامته پورې د راتلونکو مُريدانو نومونه ليکلي وو او وه وئيلے شول چې دا ټول ګسان تاسو ته حواله کړے شوي دي- غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما پهٔ دوزخ د مقررې فرښتے نه پوښتنه وکړه: آيا پهٔ دوزخ کښې زما څوک مُريد هم شته؟ هغوئي جواب راکړو: نهٔ- (بَهجَة الاَسرَار، ص 193)

کہہ کر کے "لَاتَخَف" ہمیں بے خوف کردیا اُس رحمتِ خدا کو ہمارا سلام ہو

(وسائل بخشش، ص 620)

غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور وفرمائيل: زما دې د خپل پروردګار په عزّت او جلال باندې قَسم وي! زما د حمايت لاس زما په مُريد باندې داسې دے لکه څنګه چې اسمان په زمکه باندې سورے کړے دے- که زما مُريد ښه نه وي نو هم څۀ وشو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زۀ خو ښه يم- زما دې د خپل پالونکي په عزت او جلال باندې قسم وي! زۀ به تر هغه وخته پورې د خپل رَبِّ کريم د بارګاه نه نۀ اخوا کيږم تر څو پورې چې خپل يو يو مُريد جنَّت ته داخل نۀ کړم- (بَهجَةُ الأَسرَار، ص 193)

قادری کر قادری رکھ قادریوں میں اُٹھا　　قدرِ عبدالقادرِ قدرت نُما کے واسطے

(حدائقِ بخشش، ص 149)

## د نسبت برکت

حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زيرے دے د هغۀ چا د پاره چا چې زۀ وليدم يا يې زما ليدونکے وليدلو يا يې زما د ليدونکي د ليدونکي ليدونکے وليدلو- ما له په هغه کَس باندې حسرت (افسوس ) راځي چا چې زۀ اونه ليدم- (بَهجَةُ الأَسرَار ، ص 53)

د بغداد سرکار، حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک زما سره وعده فرمائيلې ده چې زما مريدان او زما دوستان به جنَّت ته داخلوي-

څوک چې زما طرف ته منسوب وي او زما نوم واخلي، اللّٰه پاک به هغهٔ قبلوي او پهٔ هغهٔ باندې به مهرباني فرمائي، اګر که هغهٔ پهٔ بد عمل باندې وي، هغهٔ زما پهٔ مريدانو کښې دے- ما د منکر نکير نه د دې خبرې وعده اخستې ده چې هغوئي به پهٔ قبر کښې زما مُريدان نه ويروي-

(بَهجَة الأَسرَار ، ص 193 ملخصاً)

مریدی لاتخف کہہ کر تسلی دی غلاموں کو
قیامت تک رہے بے خوف بندہ غوثِ اعظم کا

ندا دے گا منادی حشر میں یوں قادریوں کو
کدھر ہیں قادری کرلیں نظارہ غوثِ اعظم کا

فرشتو روکتے کیوں ہو مجھے جنت میں جانے سے
یہ دیکھو ہاتھ میں دامن ہے کس کا غوثِ اعظم کا

صدائے صور سن کر قبر سے اٹھتے ہی پوچھوں گا
کہ بتلاؤ کدھر ہے آستانہ غوثِ اعظم کا

عزیزو کر چکو تیار جب میرے جنازے کو
تو لکھ دینا کفن پر نامِ والا غوثِ اعظم کا

جمیلِ قادری سو جاں سے ہو قربان مرشد پر
بنایا جس نے مجھ جیسے کو بندہ غوثِ اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص 93 تا 101)

حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جنَّت د نعمتونو اندازه څوک نشي لګولے چې اللّٰه پاک د خپلو بنده ګانو د سترګو یخولو د پاره څهٔ تیار کړي دي- (غوث پاک کے حالات ، ص 77)

سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

گدا بھی منتظر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا　　خُدا دِن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا

(حدائق بخشش، ص 37)

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **عاشقانو!** د يولسمې والا مُرشد د سيرت اختيارولو کوشش هم وکړئ، راځئ! د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک واورئ: الله پاک دې مونږ ته د دې مطابق د خپلو شپو ورځو تيرولو توفيق رانصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: " د الله پاک نافرماني کول نه دي پکار او د رښتياؤ لمن نه دي پريښودل پکار-" (فتوح الغيب مع قلائد الجواہر، ص 44 ملخصاً)

**اے پۀ غوثِ پاک** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **مئينو!** نيت وکړئ چې د نن نه پس به هيڅ يوه ګناه نه کوو، **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** نمونځونه به نه قضا کوو، **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** بغير د شرعي اجازت نه به جُمعه هم نه قضا کوو، **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** فرض روژې به نه پريږدو، زکوٰة به پوره ادا کوو، که حج فرض وي نو پۀ ادا کولو کښې به يې د لم ليټ نه کار نه اخلو، دروغ به نه وايو، ګيره به نه خريو او د يو موټې نه به يې نه کموو، فلمونه، ډرامې، سندرې سازونه به نه ګورو،

نه به يـې اورو، بے پردې زنانۀ ته به نه ګورو، سود به نه کوو، د رشوت لين دين به نه کوو، شرابو ته به هم نه ورنزدې کيږو، د مور پلار نافرماني به نه کوو ځکه چې دا ټولې خبرې د الله پاک نافرماني ده لکه څنګه چې تاسو اوس د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمان واوريدو چې د الله پاک نافرماني نه دې کول پکار-

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه **عاشقانو!** چې د الله پاک پۀ رحمت باندې د ګناهونو نه بچ شو، ښې ډيرې نيکۍ کوو، نيک اعمال رساله ډکوو، پۀ مَدَني قافلو کښې سفر کوو، د عاشقانِ رسول صحبت اختياروو، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا حاصله شي نو پۀ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه پسې به وروستو وروستو جنَّت ته ځو- **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!**

سجائیں عمامہ بڑھائیں جو داڑھی　　انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
جو ہیں وَقف، سنّت کی خدمت کی خاطر　　انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
جو روزانہ دیتے ہیں نیکی کی دعوت　　انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
سفر قافلے میں جو کرتے ہیں ہر ماہ　　انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
جو دیں راہِ مولا میں بارہ مہینے　　انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
ہے عطارؔ کو سَلبِ ایماں کا دھڑکا　　بچا اِس کا ایماں بچا غوثِ اعظم

(وسائل بخشش، ص 550، 551)

## پهٔ خوب کښې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زيارت کولو غوثيه نُسخه

د مَدَني پنج سورې پهٔ صفحه 303 باندې دي: څوک چې دا (يعنې قصيدهٔ غوثيه) خپلې مخې ته کيږدي او درې کرته يې ولولي نو د غوثيت پهٔ بارګاه کښې به قبول شي او د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زيارت سعادت به حاصل کړي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!


بیدار بخت وہ ہے حقیقت میں جس کو جلوہ  تُو خواب میں دِکھا گیا بغداد والے مرشد

(وسائل بخشش، ص 546)

میرا پیر میرا پیر غوثِ اعظم دستگیر  آپ ہیں پیروں کے پیر غوثِ اعظم دستگیر
محبوب رب قدیر غوثِ اعظم دستگیر  آپ ولیوں کے امیر غوثِ اعظم دستگیر
بے مثال و بے نظیر غوثِ اعظم دستگیر  بخشوادو میرے پیر غوثِ اعظم دستگیر

(وسائل فردوس، ص 60، 61)

د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92    0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net